# Pamir languages

# (پاميري ژبې)

**Ehsanullah Pamir**
Professor, Department of Pashto,
Faculty of Languages and Literatures, Paktia University, Afghanisthan,
CorrespondinAuthor: ehsanpamir@gmail.com

DOI: 10.52984/ijomrc2210

**لنډيز**

کله چې علم د تاريخي، جغرافيوي او مقايسوي – تاريخي ژبپوهنې په اصولو د باختري او پيرسيک ژبو تر منځه بريدونه ټاکي پاميري ژبې د باختري ژبو په لړ کې څرګند ځای نيسي. پاميري ژبې ددغې آريايي لرغونې سيمې په غولي کې پيدا شوې، روزل شوې دپامير او دهغه ورڅېرمه سيمو په غيږ کې يې لا تر اوسه ځان ساتلی دی، د ژبنيو اړيکو او خپلوی له مخې په يوه ګروپ کې ټولې پاميري ژبې راټولول يوه اصطلاح ده تر اوسه لا دا په يقيني ډول څرګنده نه ده چې ټولې پاميري ژبې د يوې لرغونې سرچينې څخه رازړيدلې وي او بيا ځانګې ځانګې شوې وي او که د آريايي ژبو څخه بيلې بيلې پاته شوې دي، چې د ځانګړو ځانګو په حيث يې ځان ساتلی دی، د پاميری ژبو متخصص مارګين سټرن د دغو ژبو سرچينه يوه نه ګڼې دی ليکي (( د ټولو پاميري ژبو له پاره د واحد فونولوژيک سيستم پيدا کول امکان نه لري، يوازې په څو فونيټيکي خواصو کې دوی سره ګډون لري په هغې کې هم دوی کله کله سره جلا او د نورو ژبو مثلا پښتو سره په يوه کتار کې دريږي )) دلته بايد ياده شي چې د مارګين سټرن له دغې نظريې نه زيات کلونه تير شوي دي او دا وروستی نظريه نه ده، ترهغه وخته په پاميري ژبو کې مطالعه لږه شوې وه او بيخې لږ مواد پکې راټول شوي وو مثلا يازګوليامي ژبه تقريبا څيړل شوې نه وه، د پاميري ژبو تر مينځ فونولوژيک بريدونه نه وو ټاکل شوي په ځانګړې توګه د غږيزو توکو پرتلنه هيڅ نه وه شوې، وروسته د ژبپوهانو او محقيقينو له خوا په دې باب ډير مواد راټول شوي او غږيز بريدونه يې ټاکل شوي دي، ددوی ژوره مطالعه او طبقه بندي څيړونکي ته ډاډ ورکوی چې دوی له يوې ونې بيلې بيلې ځانګې او له يوې چينې څخه راپيدا شوې وبولي چې وروسته يې ځانګړی تکامل کړی دی.

**سريزه**

پامير د مرکزي آسيا تر ټولو لوړه او غرنی سيمه ده، کومې ژبې چې به دغه سمه کې ورباندې خبرې کيږي د پاميري ژبو په نوم ياديږي، ددې سيمې ډيره په تاجکستان، فرغيستان او افغانستان پورې اړه لري، د ختيځ لوري د چيني ترکستان، د شمال له لوري دفرغانې، د غرب له لوري د آمو د سيند او د جنوب له لوري د قراقروم د غرونو په واسطه احاطه شوې سيمه ده. په دغه سيمه کې د پوهانو د څيړنو په اساس اووه ژوندی ژبې شته دي چې د هغه له جملې څخه اشکاشمي، شغناني، منجي، سرغلامي، يزغلامي، په تاجکستان کې سنګليچي او په چين کې سرقولي ژبې د يادولو وړ دي: (۳: ۱۲۷-۱۲۸ ) د پوهانو به عقيده دا ژبې يو له بله سره فونولوژيکي او مورفولوژيکي ورته والی لري خپلوانې ژبې دي، ددغه خپلوانو ژبو ترمينځه کله کله د فونوټيکي سيستم د سمون ناڅرګندوالی د خپل تکامل په وروستيو مرحلو کې منځ ته راغلی وي د نورو پاميري ژبو په لړ کې زياته خپلوي د شوغنايي ژبو تر مينځه ليدل کيږي داګروپ له ۴ ژبو څخه عبارت دی.

1) شوغنايي ژبه
2) روشاني ژبه
3) بارتنګي ژبه
4) سريکولي ژبه

ددغه څلوروژبو سټه يوه ده چې د عمومي شوغنايي ژبو په نامه يادېدلای شي د نورو پاميري ژبو (واخاني، اشکاشمي، مونجاني، يازګوليامي ) ژبو په لړکې شوغنايي ګروپ ته يازګوليامي ژبه ډيره نيږدې ده دلته بايد ياده شي چې د نورو ژبو په

لړ کي پښتو د مونجاني سره نسبتا زيات نيږدي والی لري چي مقايسه به يي وروسته وړاندې کړو، د آريايي ژبو محققين عقيده لري چي پښتو د مونجاني او پاميري نورو ژبو تر مينځ موقعت لري.

**د پاميري ژبو ټاټوبی**

د ژبپوهنې په اصطلاح د پاميري ژبو څخه د اينډو اروپايي ژبو هغه آريايي ګروپ مطلب دی چي په پامير او ورڅيرمه سيمو کي پرې خبرې کيږي داسيمي په لاندې ډول دی، د پنج سين او د هغه د معاونينو په غاړه خصوصا د افغانستان او شوروي غرني بدخشان په سيمه کې او دهغوی سره د کشمير په ګاونډی سيمه کې، حزا د هند په شمال غرب کي او بلاخره د سينکيان په پاميري برخه کې. (۵: ۲۹۱- ۲۹۴)

**پاميري ژبی په دې ډول دي :**

1. د شوغنايي – روشاني ژبو ګروپ : د شوغنايي، باوجووي او روشاني – خوفي لهجو په شمول چي د پنج به اودواړو غاړو او دخوف په دره کي پرې خبرې کيږي. بارتنګي او اروشوري ژبي د پنج د ښي معاون، بارتنګ سيند په غاړه، سريکولي ژبه په سين کيان کي د تاشقرغان د سيند او دهغه د معاونينو وارچي او تېنزيف په غاړه، د تغامه او بورونګسول په درو کي وربانديې خبرې کيږي.( ۶: ۵۲ )
2. يازګولامي ژبه: په دې ژبه يوازې د شوروي په پامير کې او د پنج سيند د ښي معاون يازګولام په دره کي وربانديې خبرې کيږي.
3. واخاني ژبه : د پنج په بره خوا کي په دواړو غاړو او دکشمير دبرخون سيند په غاړه او دهند په شمال غرب کي د خونزه نومي سيند په غاړه، په سين کيان کي د تاشقرغان د سيند به غاړه او دسريکوليانو په جنوبي سيمو کي پرې خبرې کيږي.
4. اشکاشمي ژبه : د پنج سيند په هغه سيمه کي چي د لوديځ څخه د شمال په لور خپل لوری بدلوي او د افغانستان د سنګليچه په سيمه کي وربانديې خبرې کيږي.(۶: ۵۵ )
5. مونجاني ژبه:د افغان پامير د مونج دسيند په غاړه چي د کوکچي يوه سرچينه ده همدارنګه د لوت کوه (د کونز د سيند ښي مرستيال چي ايدګا دياليکت ورکي موجوده ده خبري کيږي
6. وانچي ژبه : دا ژبه په اوس وخت کي د هغه لړ شمير کليماتو په برکت شهرت لري چي لومړی په ۱۹۹۴ کال کي د اي اي زاروبين او بيا د روزينفلډ له خوانه وړاندې شوي وې د اژبه پخوا د پنج سيند د ښي مرستيال وانچه په غاړه موجوده وه.

(۷: ۴)

سرګولامي ژبه :ددي ژبي په اړه دڅيرونکو تخمين هم شهر ت لري چي د فيض آباد خواته دسرګولام سيند په بره خواکي موجوده ده او د پاميري ژبو په ډله کي شميرل کيږي پاميري ژبي د دوو اولسونو ژبي دي چي د دوی په لړ کي خورا لوی اولس د شوغنايي روشاني ژبو ويونکي او واخانيان دي، د شوغنايي روشاني ژبو د ويونکو شمير د ځلويښت پنځوسو زرو په شاوا خواکي دی او د واخانيانو شمير ۲۵ زرو څخه تر ۳۰ زرو پورې رسيږي په پاته ټولو پاميري ژبو يوازې څلور څلورنيم زره کسان خبرې کوي، ټولي پاميري ژبي ليک نه لري د رواني پيری په ديرشو کلونوکي د شوغنايي او واخاني ژبو د پاره دليکه د منځ ته راوړلو لپاره کوښښ وشو خو مطلوبه نتيجه يي ورنه کړه په معاصر وخت کي د شوروي پاميريان په تاجيکي ژبه سريکوليان په اويګوري ژبه او افغاني پاميريان په پښتو او دري ژبه زده کړې کوي همدغه دری ژبې د پاميري بيلو بيلو ژبو ويونکو ترمينځ د افادې او استفادې ژبې هم دي ځکه خپله پاميري ژبې سره ډيرې لري دي او ديوې ژبې ويونکي د بلې ژبي له ويونکو سره په نورو ژبو نه پوهيږي. د پاميري ژبو په لړ کي د شوغنايي – روشاني ژبو ګروپ مهم ځای نيسي په دغه ګروپ کي دغه ژبي او ديالکتيکونه شامل دي :

أ) شوغنايي
ب) روشاني
ج) بارتنګي
د) اوروشوري
ه) سريکولي
(۶: ۵۱)

ددغه ژبو او ديالیکتیکونو تر مینځه نیږدي والی او خپلوي تر دې حده ده چې ویونکې یې په آسانه سره یو تر بله پوهیدلای شي د دغې نیږدې خپلوی له مخې کیدای شي دغه ټولې ژبې دیوې ژبې بیل بیل ديالیکتیکونه و بلل شي خو دهغې عامې ژبې نوم نشته چې د غه ټولې یې ځانګې او ديالیکتیکونه وګڼل شي دغو ټولو ژبو په ځانګړې او مساوي توګه پراختیا موندلې او یوه دبلې دیالیکت نه شو ګڼلای، سریکولي ژبه له خپله ګروپه په لږ څه لیرې شوې ده او علت یې هم دادی، چې تقریبا سل کاله کیږي، چې د خپل ګروپ سره یې تماسونه شلیدلې دي. د پامیري ژبو ددغه ګروپ علمي مطالعه او پلټنه د تیرې عیسوي پیړۍ په دویمه نیمایي کې د ر. شاو او د ک. ګ. زلیمان له خوا شروع شوه.په ۱۸۹۵ کال کې د زلیمان اثر چې د ایوانوف شوغنايي قاموس نومیده خپور شو د ادهغه موادو سیستماتیکه تجزیه او تالیف وو چې د یوه پلټونکي ایوانوف نومې له خوا نه راټول شوی وو، ددغې ژبې اساسي مطالعه او پلټنه په ۱۹۱۴ کال کې زاروبین شرع کړې او په دې باره کې د دغې ژبې د ګروپ د پوره پیژندنې بنه اساسونه کیښودل.په ۱۹۲۸ – ۱۹۴۲ کلونو کې پروفیسور مارګین سټرن د شوغنايي ژبې د تاریخ په باب دوه مقالې خپرې کړې. بیا په ۱۹۵۳ کال کې د و.س. سوکولوه له خوا د شوغنايي خصوصا د فونیټیک په برخه کې یو ډیر ښه اثر خپور شو. د همدغې محققې له خوا د شوغنايي – روشاني ژبو درسته طبقه بندي هم وشوه. سربیره په دغه یادو شویو محقیقینو د شوغنايي –روشاني ژبو د ګروپ په باب یو لړ نورو محقیقینو هم څیړنې او پلټنې کړې دي، چې ددغه ګروپ ژبو مطالعه او څیړنه یې اسانه کړې ده د شاه عبدالله بدخشي (د افغانستان د ځینو ژبواو لهجو قاموس ) چې د پښتو ټولنې له خوا په ۱۳۳۹ کال کې خپور شوی دی، د پامیر ې نورو ژبو په څنګ کې د پښتو شوغنايي په لغوي مقایسته کې ښه مرسته کولای شي.

**ګرامر ته یوه کتنه :**

د شوغنايي – روشاني ژبو دګروپ ټول ديالیکتونه پرته له سریکولي د اسم ذات مذکر او مونث کتیګوری لري، د سریکولي او وروشوري نه پرته ددغه ګروپ په ټولو ديالیکتونو کې د جمع علامه ( ښ مجهوله ې + ن ) راغلې ده د اضافي او صفتي ترکیب په باب ددغو ګروپ ژبو ډول او طرز د نورو باختري ژبو په شان دی یانې مضاف الیه او صفت د پښتو په شان د مضاف او موصوف تر مخه راځي، شخصي ضمیرونه دوه ګرامري (لومړی او دویم ) حالتونه لري مګر جمع یې تغیر نه مومي.(۳: ۱۲۷- ۱۲۸)

| شوغنايي | پښتو | روشاني |
|---|---|---|
| واز | زه | از |
| ماش | مونږ | ماش |
| تو | ته | ته |
| تمه | تاسو | تمه |
| مو | ما | مو |
| تو | تا | تا |

( ۲: ۲۸ )

د واخان له مخې اشاري ضمیرونه درې صیغې لري :

| شوغنايي | روشاني | پښتو |
| --- | --- | --- |
| يو | يا | دا |
| واذ | واذ | دوی |
| دي | دی | دغه |
| مي<br>هوغه | | مای |

( ۸: ۴۳)

نور ضميرونه په دې ډول دي:

چيدوم ( کوم )

چيز ( څه څه شي )

چای ( څوک )

چي ( چا، د چا )

ار ( هر )

( ۱: ۳۱ )

فعل : د شوغنايي- روشاني ژبو په ټولو دياليکټونو کې فعل د ماضي او دحال دوه اساسونه موجود دي.

د حال او مستقبل زمانه :

| | |
| --- | --- |
| لو وم | لولم |
| لو وام | لولو |
| لو وي | لولې |
| لو ويت | لولی |

ماضي :

| | |
| --- | --- |
| اوم لوود | ما لوست |
| ام لوود | موږ لوست |

په دغه صورت متعدي فعل په ماضي کې يوازې دفاعل تغيير غواړي نور د پښتو په شان په فعل کې تغير نه راځي.

آدات :

د عطف د جمع په ځای (ات، او ) راځي چي د بغلان د سره کوتل په کتيبه کې د (اوته ) په بڼه ليکل شوی دی مثلا يا پوند تيزدات سور لوود= هغه په لاره ځي او سندره وايي.

د تابعي جملو د وصل دپاره (څه که ) راځي چې د پښتو د(چې ) ماناورکوي لکه چير څه نه که ماش چيز خوران = کار چې نه کړې مونږ به څه خورو

د ترديد له پاره (يو – يا ) استعماليږي

د پښتو د نو په ځای ته استعماليږي لکه ايدته چيز لو ود = هغه نو څه وويل

پاميري ژبې له پښتو ژبې سره دا او دې ته ورته ډېرې اړيکي سره لري چې څېړونکي او محققين بايد ورته پاملرنه وکړي او په اړه يې لا څېړنې وکړي.

**پايله:**

پښتو ژبه له ډېرو ژبو سره اړيکي لري خو له پاميري ژبې سره يې اړيکي ډېرې واضيح دي پاميري ژبې د ختيځو اريايي ژبو گروپ دی، شمال ختيځه ژوندی ژبه هم ورته ويل کيږي. ددې ژبې ويونکي تر سلو زرو تنو اوړي، پامير د افغانستان اړوند سيمه ده په ملي سرود کې هم ددې سيمې او خلکو يادونه شوې ده ، د څېړونکو په وينا په دې غرنيو سيمو کې اووه ژوندی ژبې شته ده چې تر ټولو مشهوره او ډېره کاريدونکې ژبه يې پاميري ده دا ژبې يو له بله سره ډېری ورته والی لري د فونولوژيکي او مورفولوژيکي پلوه سره اړيکي لري. هغه ژبې چې په دې سيمه کې يو له بله سره اړيکي لري او نيږديوالی لري هغه ژبې اشکاشمي، شغناني، منجي، سرغلامي، او يزغلامي ژبې دي چې ځينې يې په تاجکستان او ځينې نورې يې په چين کې ويل کيږي او خلک ورباندې خبرې کوي. ټول څېړونکي په دې نظر دي چې دا ژبه د آريايي ژبو له کورنۍ څخه دي چې خو د دې سيمې د لرې پرتې والي په خاطر ورته کار نه دی شوی او لا تر اوسه يې ډېرې خواوې نا شنلې پاته دي څېړونکې دنده لري چې ددې ژبو په اړه څېړنې او تحقيقات وکړي.

**اخځليکونه**


۱ ـ آريانا دايره المعارف، لومړی ټوک، ۱۳۸۶ کال. دافغانستان د علومو اکاډمي، نبراسکا مطبعه، کابل.

۲ ـ آريانا دايره المعارف، دويم ټوک،۱۳۸۷ کال. دافغانستان د علومو اکاډمي، نبراسکا مطبعه، کابل.

۳ ـ اورمړ، خليل الله. آريايي ژبې . ۱۳۸۷ کال، کابل مجله ، د علومو اکاډمی . کابل.

۴ – پښتو پښتو تشريحي قاموس، ۱۳۸۳ کال، علومو اکاډمی، کابل.

۵ ـ دوسوسوړ، فردينان. دوره زبانشناسي عومي، ۱۳۸۷ کال ، ژباړه کوروش صفوي، انتشارات هرمس، تهران

۶ – شپون، وجيه الله . له لرغونو ژبو سره د پښتو ژبې اړيکې . ۱۳۸۹ کال، مومند خپرندويه ټولنه، ننګرهار

۷ – منگل، علي محمد ، پښتو لهجې. ۱۳۸۷ کال، علومو اکاډمی کابل

۸ – يوسيف، م ، اينسکي. زبانهای ايراني . ژباړه دوکتور علي اشرف صادقي، ۱۳۸۷ کال ، انتشارات سخن. تهران